ډيوې

د شعرونو مجموعه

عاشق الله فرياد



ډيوې

د

عاشق الله « فرياد »

(دشعرونو مجموعه)

۱۳۶۵ کال

ژبه : دیوي
شاعر : عاشق الله فریاد
دا .د .ج . د لیکوالو اتحادیی له خوا
مهتمم : الف ، عبدالرحیم زی
کال : ۱۳۶۵ (کب) ۱۹۸۷ع (مارچ)
تیراژ : ۲۰۰۰ توکه
کنه- : ۱۰۷
دهشتی طرح : عظیم نوري
دچاپ ځای : دولتی مطبعه (مانو تایپ)

عاشق الله (فریاد)

او دهغه فن

د عاشق الله (فریاد) سره زما په اول ځل لیدل کتل دنن نه دوه کاله وړاندې د خوشحال خان خټک په پسرلنۍ مشاعره کې وشول خو ولي د (فریاد) دشعر سره دډېر پخوانه بلدوم د (فریاد) دنوم سره پیژندګلوي سې ډیر کلونه وړاندې شوې وه

ځکه د (فریاد صیب) شعرونو او تصنیفونو لاځو کالپسه پخوا زموږ دکلي د ډېرې او حجرې په ټینګ ټکور ښې ګرمې کړې وې. او په ننګرهار او لغمان کې به ډېرکم سندرغاړي وو چې د (فریادصیب) یو نیم شعر به ئې نه وه زده. او نن دادی د هغه دشعرونو مجموعه زما په مخکې پرته ده او چې زه یې پاڼې اړوم را اړوم نو ماته هغه ځوکاله وړاندې ددېرو او حجرو محفلونه را یاد شي هغه کلي را یاد شي او هغه وخت. او د دې سره سم سی د (فریاد صیب) هغه شعرونه په ذهن کې انګازې جوړوي کوم چې به ما هغه وخت اوربدلي وو. ښه دایو تاثرووچې ما وړاندې کړو او اوس به اصلي مطلب ته راشوزموږ مطلب د (فریادصیب) شعر دی او د هغه فن.

دشعر او ادب په‌باب خو پوهانو او محققینو دوسره څه‌لیکلي‌دي‌چې سړی یې هډوخیال نشي کولی . هوچاچې قلم راواخستی نو د خپل فکر نیلی ئې په‌هغه لور زغلولی دی چې کړم لوری یې خوښ شوی او د شعر په باب یې خپلې نظریې وړاندې کړي دي . خو پوهانو د شعر یو تعریف داسې هم کړی دی چې (کلام موزون ومخیل) یعنی هر هغه کلام چې وزن او ځانګړی خیال ولري نو شعر ورته ویلی شو یعنې په شعر کې تخیل اووزن ساتل خپله دشاعرفن او کمال دی . خوخبره په‌دې کې‌ده که‌چیرته‌په شعر کې یوازې د وزن پرله درنه وي او خیال پکې نه‌وي نو هغه شعرنه دی او که دخیال پله یې درنه وي او وزن ونه لري‌نو هغه هم شعرنه‌دی یعنې موږنه شوکولی چې یوازې موزونو او یا یوازې مخیلو کلامونه شعروو ایو . خو خبره دعا شق‌الله (فریاد) په‌شعر کې ده .

(فریاد) شاعر دی ، فنکاردی او هنرمند . د هغه په‌شعر کې هم وزن شته دی او هم تخیل او که‌چیرته هغه د فن کمال‌ته‌نه‌دی رسیدلی نو دا باید ووایو چې‌داد (فریاد صیب) لږ مړنی شعري ډالی ده چې‌لوستونکو ته یې وړاندې کوي او په اولځل باید داتمه تري ونه‌شي ځکه چې (فریاد) د شعرد کاروان شه‌سرګرمه لاروي دی او د شعرمیدان یې اوس هم شه تو ددې خوترکوم ځایه چې‌ساد (فریاد صیب) شعرونه لوستلي او په دې کې راسره دهغه اتفاق هم شته دی چې د (فریادصیب) شعرډیره مخلې شه لري نو موږ باید دهغه شعري مجموعه دهغه د خپلې خبرې سره سم په تله کې وتلو .

بله خبره چې بايد يادەشي داده چې د(فرياد) پەدغه شعري مجموعه کې تصنيفو نەهم شته دي چې و خت پەو خت ئې دسندرغاړو د غوښتنې پـه اساس ليکلي دي نو کله چې د (فريادصيب)دشعر دفورم او شعري خصوصيت په باب خه ليکو او ياخپل نظر بيکاره کوو نو داڅولې خبرې بايد له يادە و نه باسو او بيا پرې قضاوت وکړو.

د (فرياد) شعر د فرياد و نه ډک دی ،له سوزنه ډک دی، د سينې او خلوص نه ډک دی. خو د اچې دهغه زړه بهد کوسې سينې او کوم درد دلاسه فريادي وي دا په خپله لوستونکوته پرېږدو او زه بەيوازې د (فريادصيب)دايوشعر د خپلې خبرې د پخوالي دپارەوړاندې کړم چې وايي :

ديار کوخه کې سې د سينې زړې
غټو وړوته افسانې پاتې دي

چې ددې خبرې پوره اندازه لګيدلی شي او کله چې د هغه دځوانو هيلو او ارزوګانو تاندې غوټې رژېږي نو بياچاته خه پتەدەاو په دې يوازې (فرياد) خبر دی وګورې څومره ښه وايي :

زما د ځوانو ځوانو هيلو ارزوګانو غوټې
لکه د سني ګل رژېږي تاته خه پته ده

او داشعر ئې هم کمال کوي :

دتورو شپو تورو تيارو په سنځ کې
دمحبت شمع روښانه شولـــه

او په داډول د (فريادصيب) ډېرې غزلې کەخەهم غزل زيات نەليکي

خوولې رنګيني سلامت او خوشبويي لري چې زمونږ د پښتو ادب دتاز يني ښه او تانده ځانګه ئې بللی شو.د (فريادصيب) شعر د ټولونه مخکې د(فرياد) دفريادي ژوند يوه ښه هنداره ده او د (فرياد) په شعر کې د(فرياد) څېره هغه وخت لوستونکي ښه ليدلی شي چې (فرياد) ووينې هغه ددې پروانه ده ساتلې چې څه او څه شی بايد وليکي .بلکې له هر څه نه چې ستأثره شوی دی هغه يې د شعر په ژبه بيان کړي دې-

د(فرياد صيب) په دغه شعري مجموعه کې نه يوازی چې ښکلي ښکلي شعرونه ، غزلې، چاربيتې ، لوبې او بګۍ را غلي دي بلکې داخلاقي ، اجتماعي او ټولنيز ژوند د پند او نصيحت بر خه هم پکې شته په ټولو مفصل غږ ېدل د کتاب د سريز و اصول نه ا يجابوي نو په دې خاطر په همد غو خبرو بسنه کوو او په پاي کې بايد ووايو چې عاشق الله (فرياد) زمونږ د وخت شاعر دی او د هغه شعر زمونږ دوخت او زماني شعر دی نو ددغې مجموعې چاپ دافغانستان دسوکراتيک جمهوريت دليکوالو داتحاديې له خوا په پښتو ادب کې يوه ښه او نېکه زياتونه ده او کېدي شي چې د دغې مجموعې په لوستلو د ډيرو فريادي زړونه ټکور شي . زه د (فرياد صيب) دمجموعې او لوستونکو ترسرخ نورې فاصله نه غواړم داتاسې او داهم د(فريادصيب)فريادي شاعري .

بس همدومره

په ډير خلوص

افضل « ټکور »

د ۱۳۶۵ کال د ټورې ۲۳ نه

مېرنی کارگر

جارشمه کارگره ستاپولی پولی لاسو ځني

ستاننګ و غیرت او له مېرانی عظمتو ځني

وګرځم لوګی شم ستاله چاو دوچاو دوپوند و نه

ستاد خولو هر څاڅکی داستان دی داستانو ځني

ستا له بر کته دا نړی رنا رنا شوله
ځا رشمه قربا ن شم ستا په شا نې سپرنو ځنې
ستاد لاس تنا کې په قسم چې طلائی ښکاري
جو ړشو طلائي جها ن ستاتینګوا ر ا د و ځنې
څوچې داجهان وي ستا په نوم با ندې به و یا ړي تل
جو ړدې که تاریخ خپل له زرینو تاریخو ځنې
تو ان د قلم نه رسي چې ستا و یا ړنه و لیکي
د ا سو غا ت قبول که د (فر یا د) له ترانو ځنې

د وطن مينه

سالوسې را که سو ري يارسې روان دی
ځم د وطن جګړې ته دا سې ارمان دی
چې دوطن په سينه خپل سال اوسرو رکوي
سو رجا نې دا سې ځلمی په سا ډبر ګران دی

سر به خیرات و رکړه په‌نذرانه دوطن
ځوانا نو ننګ و کـوی زړه‌سې پریشان دی
و رکـړی گو زارد غضب د ښمن ته‌نیغ په‌ټټر
همت سعلوم کـړي د خپل لورښو نشا ن دی
ځان د (فریاد) په نغموو یښ کړه غیرت‌و کوه
وطـن رښـا شو یاره جـهـا ن روښـان دی

دیارغم

زړه سې بیا را نه دیدن دصنم غواړي
لکه گل د سبائي چې شبنم غواړي
په عذ رونو په زا ري نه‌پخلا کېږي
خو ږاشنا را نه دسینی هر دم غواړي

څه چاره و کوم زړه را ته زور ږي
سره لـبان او د اشنـا غنچه فم غوا ړي
که خو بان دجهان ټول ور ته حاضر کړم
بی خپل یاره نه عرب نه عجم غوا ړي
که شپه و رځي د گلشن په نندارو وي
له خوښیو دی بیزا رد یا رغم غوا ړي
د(فریـا د) زړه د هـجران غمو خو ړلی
خو د به و چوي لمده څټه یو نم غو اړي

لوغړن

چې مين شومه د يار په تو رچشمانو
نه سې خوب نه سې ارام شته عز يز انو
مينتونه به دخپلو دپر دوو ړي .
چې څوک و نښلي په دام کې دخو بانو

معشوقو کې هیڅ اثر دوفا نشته
داسې ښه ښکاره کیږي له ګلانو
چې شي و خت د پسرلي په غوړ بدو شي
په خزان کې وي غوغا دبلبلانو
چې سین شي ددنیا کارو نه پر پردي
داسې پرې ثبوت کړی هوښیارانو
معشوقه عاشق ته ګرانه وي هر څه نه
خدایه تو د لري مجلس د مینانو
خوار (فریاد) عاشق الله غمو خوړلی
څکه سوی لوغړن ګرځي یارانو

خاطرې

زړه کې مې لړې اندېښنې پاتې دي
دغم قصې ترخې ترخې پاتې دي
دیارکوڅه کې مې د سپې رټل
غټو وړوتې افسانې پاتې دي

چاته نبشه چاته خمارشکارم
په انتظار سې ستر گې سرې پاتې دي
هر څه به تير شي خو هېر يرې کله
د زړه د فتر کې خاطرې پاتې دي
د ژوند تيا رې سې ځکه نه سميږي
زلفې د يار په سخ خو رې پاتې دي
را تلل د نن سبا په تمه باند ې
فقط همدغه بهانې پاتې د ي
دژوند جو نګړه باندي او رو لګيد
هر خو ا دسيني و يرانې پاتې دي
(فر يادە) ليکه يې د زړه پەوينو
ډيرى نمېګړې ترانې پاتې دي

پښتنی ننګ

خو په دا خوارزړه په‌لمبو سو زيږي
کـتره کـتره په سره انګا رو ريتيږي
کرار کرار را ځني هرڅه هېرشول
يو دا شـنا غم را نه نه هېـر يږي

بخته تقدیر دې بدلولی نشم
څو به زما په ژوندون لوبې کېږي
د ژوند دنیاسې ده روښانه په تا
رنا چې ور که شي تیا رې خو ر بر ي
له اوښکو ډکې شوې د ستر گو کاسې
پښتني ننګ دی کښته نه څخېږي
رقیب په څوخوځلي ورتل شو
ستر گې یې خړې دي هېڅ نه شرمېږي
گله شوه سینه سې لهو ینې سره
نوک اووړی هېڅکله نه بېلېږي
چې څوک د سینې په خو ړلن کېو تی
پکې و ریتېږي تر بنه نه خلا صېږي
(فر یاد) سلګی و هي دیار په غېږ کې
که په ګلپا نو کې شبنم ژړېږي .

دوصال سحر

سینې ستې کړمه لهننګه سې ژړا ونه کړه
ژړا لاځه کړې یوګیله سې لهاشنا و نه کړه
پښتنې اوښکې سې جرګه درته لېږلي مدام
تا د پښتو په د و د زړا دژوند سلاونه کړه

دلاله په ځای مې ذکر ستا د نوم په ژبه
خو تا په عمر کې پوښتنه هیڅ زماونه کړه
په څه ګناه دې له نظره غورزېدلې یمه
دسو وسو وا سو بلو دې هیڅ پروا ونه کړه
تل دهجران د سابا سو نو په تو رتم کې او سم
ستاد وصال سحر مې ژوند ته هیڅ رنا ونه کړه
دځنګدن په وخت کې را شه چې سې ساه و خپرې
دوسره خو وکړه په تول ژوند کې دې وفا ونه کړه
په خمارو ستر ګو (فریاد) ته دغضب کاته کړه
پدې هم خو بښدی خیر که تا خوږه سو سکاو نه کړه

د استاد حمزه د یوې غزلې په اقتفا

ستر گوګی

څه د خوند خندا کوي په ستر گو کې
څه ناز و ادا کوي په ستر گو کې
ستر گې د یار څوم ره فتنه ګرې دي
تل د زړو نو غلا کوي په ستر گو کې

سورئي په ديدن دسترگونه شومه
هر خواتما شاکوي په سترگوکې
پوه به غمازان ديار په رازنشي
پټ پټه ويناکوي پهسترگوکې

مخامخ ېې سترگوتهکتې نشم
قارکوي سوسکاکوي پهسترگوکې
ای (فريادە) پرېده داد سوزنغې
ظلم په هرچاکوي په سترگوکې

نازک خیالونه

بیګاه سې خوب لیدلی محبوبا ما ته راځي
سوسکایي په سرو شونډو به خنداسا ته راځي
یو باغ وه د سرو ګلو ګرځېدم به هرې خواته
نا څا په سې نظرشو چې لیلاسا ته راځي

داشپه وه خو سره لنه په تاثير بې نه پوهيږم
وصال باندې سوړ نشوم او سژ ړا ساته را ځي
خفګان کړمه ببخو ده دوصال په تصور کې
نازک نازک خيالونه په ګډا ساته را ځي
سړې او تو دې شته دي محبت کې دا نمه
خو کله په هجران کې ليونتيا ساته را ځي
وزګار نشوم له غمه يو شپبه په ژوندانه کې
شپبه په شپبه داد غم بر بښنا ساته را ځي

درحمت شاه اسائل ډيوشعرنه پهالهام

دمينی خمار

د ګلاب غوټی دې و ينم اننګو کې
خما رو نه ما توې سړ او و کتو کې
سيادمينې لبونتوت کړی اثردی
خمار ګرځمهٔ دښار پهميخانو کې

چې په و رۍ نه او ابا ده خبر نه وي
خو د کانې شي په قطا رد لپو نو کې
په زړه صاف بو را په رنځ با ندې اخته شو
کار غان گرځي د گلشن په نندارو کې
دسر و شونډې په شر ابوئې سمو ر که
عا شقا ن ساته مست دار نگه نېشو کې
(فر یاد) وائي دادسينې کوم قانون دی
چې تو ل عمر تېر و م په اندېښنو کې

PROPERTY OF ACKU 2867

هجران

خدايه وسوم د هجران په‌درد و غم کې
لو غړن شوم د فلك پدې ستم کې
دوه دوستان خوا ره يارا ن هيڅ پاتې نشو و
دفراق غوغاده گډه‌ټول عالم کې

نیمه خواخوا نا ن ارمان ارمان کی لاړل
ژړوي سې د غه غم هر د م قدم کې
کو ر په کو ر کلي په کلي گلو سو را ن دی
چې د پرښ کلي دوستان نشته دې حرم کې
دو ستا نه پیما ن تر سره کړه (فر یا ده)
څا ن شر یک کړه د یارا نو په ماتم کې

دانقلاب دلاړې شهيد ته

کړی سې قسم وه چې بدل په ډې ادا کړمه
ای گرانه شهيده داو عده زه په ژښتيا کړمه
کو رد ظالما نو غدا را نو به تالا کړمه
سور بيرغ د خلکو به هر کنج کې په رپا کړمه

تو ره شپه د جهل به په دې وطن رنا کړه
ما و یل د رو غ ندي د او عده زه په ر ښتیا کړه
ر اشه او س یې گو ره په ر پاسره بیر غو نه دي
هر طرف ته جو ړ د خو شحا لیو ا تنو نه دي

* * *

ستا د و ینو هر خاڅکي باتور ځلیمیان رو ز لي دي
تل په حقا نیت د گو نـد په خـو اکې د ر بدلي دي
او س د اسـتا ملـگري خپل ار مـان ته ر سیدلی دي
و ا ړه بدخو اهان او د ښمنـا ن موشرمیـد لي دي
شو سې ار زو گانې یې گو ر ته ځانه سره و ړي دي
جبر د تار یخ دی خلک ټول ا و س پو هید لي دي
یو تر بل ځا ر بړو را نه و رک تمام غمو نه دي
کار کوو په گډه خوک موخویندي خوک سوورو نه دي

* * *

ای د سحر باد ه زېرې يوسه د قبرو په لور
يود شهيدا نو د غونډ ی بل د کورو په لور
بل ددې وطن د د نګوغرونواودرو په لور
هم د انقلاب د شهيد انو هد يرو په لور

هم د د ې و طن د ننګيا ليو سپرنو په لو ر
هم د سوزبدلو سوو سوو ارمانو په لور
داسې ورته وايه چې ژوندي سو ياد گارو نه دي
زبرى د بنادى دى چې د خلکو قدرتو نه دي

* * *

جوړ به خپل وطن کړو داخدمت په‌سو ړه پورو ینم
وړک شوغدارا ن د خاینانو سخ هم تو رو ینم
څوک‌چې‌ظالمان وو او س د هغو جام نسکو رو ینم
خاندو هوسیږو خوشحالي نن کو ر په کو رو ینم
کارد خپلې خوښې دی نه ظلم او نه زو رو ینم
چاسره ښلو نه دي د چاپه‌لاس کې لو رو ینم
ټول وطن سمسور دی هرطرف تازه ګلونه دي
هرخوا · آزادي ده د بلبلو اوا زونه دي

تر کومه

خوارو زارو نا قرارۍ يم تر کومه
په زړګي باندې آزارۍ يم تر کومه
عمر داوه چې دا ستا په تمه تېر شو
ستا راتلوته انتظارۍ يم تر کومه

خوب خندایه ما حرام‌دي‌ای محبوبې
له ډېر غمه دل آزار به یم ترکومه
لږ نظر د مرحمت را باندې وکړه
پەسودا کې‌ډوب بیمار به‌یم ترکومه
زه (فریاد) عاشق‌الله په غم اخته‌یم
رحم وکړه خوا روزار به‌یم ترکومه



نوی ژوند

د وطن په سپرو د بنتو بهار راغي
سر او وګلونه بیا نوی مالیار راغی
دوطن په هرچمن ګلان غوړیږي
په خزان وهلو شاړو ګلزار راغی

هرطرف ته دخوښۍ سرود غږ يږي
بلبل ګوره په نغموا وچغا رراغی
په‌دوستانو خوشحالي‌په نورو غم‌دی
رقيب ګوره له ډ برغمه بيما رراغی
ای (فرياد) عاشق الله خوشحا له ګرځه
نوی ژوند شو نوی کار او روزګار را غی

چار بیته

یا گل د نو بـها ردی یـا دازماصـنم ده
یاستاد سـخ انوارډی یاوخت دصبحدم ده

* * *

یاستـا په مخ خـولـې دي یا عطر د گلاب
یا ستا سترگې پیـالې دي پرا ته پکې شراب
یاستا و یل د خولـې دي یا نقش دی د کتاب
عرق ستاپه رخسا ردي یاپرخه د شبنم ده

* * *

یاستا سیمین بدن دی یاخوند د ا نگبین دی
یامشک‌دی په‌ختن کې‌یاستاتو رلونگین دی
یاتا کـړی فېشـن‌دی یا دامرغ زرین دی
یا غم په‌ما انبا ردی یا جو رِسلي ساتم‌ده

* * * -

یـاستـاد زلـفـو ولـو نه یاڅـالـه‌دعقـاب
یاسـتا صـدف غا شـو نه یا نو ردی دافتاب
یاسرې شو نډې لا لو نه یاخو نددی داو ناب
یا تا کـړی سنگـا ردی یـا نا وې د حرم ده

یاستا قدرسا ده یا سروه دبوستان
یاستاد خولي خند اده یا تندر داسمان
یاخوارعاشق الله دی (فریاد) کوي ارمان
یازړه زما افگاردی یاتاکړی ستمده

دار زوغوتی

له زړه مې سړي و يني خښيږي تا ته خه پته ده
حال دی چې ما با ندې تېر پږی تاته خه پته ده

داچې له ستر گو را روانې دي گر ېوان ته ورځي
و يني که او ښکې دي بهيږي تا ته خه پته د ه

انگا رد سینې تا زه شوی د ګوګل دننه
لږ مونږ سی ورو ورو پرې وریټیږ تاته څه پته ده

زما د ځوانوالو ځوانو هیلو ارزوګانو غوتی
لکه د مسي ګل رژ پرې تاته څه پته ده

تو تې تو تې زړګی سې پاتې پې د رملو شو لو
زاړه زخمونه تا زه کېږي تاته څه پته ده

په انتظار کې سې شوسپین دستر ګو تو رد سې
قسم دی ستر ګې مې ږندېږي تاته څه پته ده

(فریاده) تاپه رقیبانو ریشخندی و هلې
اوس تمام تا پورې خندېږي تاته څه پته ده

ای دوطن ناوې

ای د وطـن نا وې چارچا پېر به د ې گلو نه کـړو
ستا غـاړې ته جـو ړ به د سـر و ز ر و اسـلو نه کړو

* * *

ای د زړه محبو بې مو ډه ټول او س پو هېدلي یو
نو ر به دو که نشو بس دی یو ځل غو لېد لي یو
کړی موقسم دی چې پو ره دې ارما نو نه کړو
ای د وطن ناوې چا رچا پېر به دې ګلو نه کړو

* * *

و اړه ظا لمان او غدا ران له سلکه و ر کښو لو
و ګو ری عسلګرو چې په ټول جهان کې سپک شو لو
ستاله خرابو ځني به جو ړښکلي قصرو نه کړو
ای دوطن ناوې چا رچا پېر به دې ګلو نه کړو

* * *

ای دوطن نا وې تابه ښکلې ښا یسته کړو سو ې
تا ځنې به جوړه د سر و ګلو ګلد سته کړو سو ې
ستا په د ښمنا نو به د خـا و روا نبارو نه کړو
ا ی د و طن ناوې چارچا پېر به دې ګلو نه کړو

* * *

ای ګرا نه وطنه ته د هغو تو ریا لوسو رئې
تا نـه چې ځا ر پېرې ته د هسې سپر نوسو ریې
داوائي(فریاد) چې ستانه‌ورک به‌ټول غمو نه کړو
ای دوطن نا وې چار چاپېر به دې ګلو نه کړو

دژوندقافله

د غدا رانو خونه ورانه شوله
دخوارغریب‌خونه ودانه‌شوله
دتو روشهو توروتیارو پهسنځ کې
دمحبت شمع روښانه شوله

کارګره کا رکوه د زړه په سينه
اوس دې دژوند لاره اسانه شوله
نا زونخـر وسره و رځـه په سينه
د ژوندون ناوې خرا سا نه شوله
کارګره ستا له چاودو پوندولوګی
رتبه دې لوړه ترا سـمانه شوله
(فريا ده) پرېده د غفلت خوبونه
اوس قافله د ژوند روا نه شوله

دزړه راز

ژړه دیار په درد وغم کې لبوئی شوم
کو رو کلی را نه ډاټې سارا نی شوم
محبت دې په ساهسې چا ری و کړې
دمجنون غو ندې دخلکو خندنی شوم

راښکاره شه په سکیز او په نخرو کې
د بلبتون د لاسه سوی سپېلنی شوم
نه‌سې خوب نه‌سې خندانه‌سې‌ارام شته
تاته زه له‌ډېره غمه موسکنی شوم
(زه‌فریاد) که داشنا په‌وصال‌سو رشوم
خو رم‌قسم‌په عاشقی کې میړنی شوم

دشوندومی

چې‌لېو نی گرځمه غم دهجران دی
سلامت نه‌یم خلکویار پهساگران دی

* * *

گرېوان مې لوند په او ښکوله ډېره غمه
په لو يه لار کې نـا ست يم د يار په تمه
کله به را شي يا زه دا مې ارمان دی
سلامت نه يم خلکو يا ر په ماګران دی

* * *

د يا ر په پا کـه سينه تر و تا زه و مه زه
دست د سروشو نډ و په سی بې اندازه ومه زه
چې يا ر جدا شو له ماسخت مې ګذران دی
سلامت نه يم خلکو يا ر په ماګـران دی

* * *

د ځنکدن سختي به په ما هوسا شي
که شېرين يا رمي يو ځل پرسان ته را شي
پروت يم دمرګ په تبه رنګ سې خزان دې
ملامت نه يم خلکو يا ر په ما ګران دی

* * *

(فرياد) و بروله کوي شپه ترسهاره
د بېلتا نه له غمه د برنا کراره
سترګې يې سرې په ژړا لوندې ګرېوان دی
ملامت نه يم خلکو يار په ما ګران دی

ازلی لیکه

انصاف په چا کې نشته ازلي لیکه بانده ده
حیران یمه سلګر و چې داځنګه زمانه ده

يا رانو په ماشوی په د نیا کی ظلم زو ردی
کچکول سې دی په غاړه رانه پا تې کلی کو ردی
ابادې ځنې لا رم اوس سې ځای په و یرانه ده
حیرا ن یمه سلګرو چې د اځنګه زما نه ده

* * *

دا خو سره ظالمان دي غو بنې خو ري د غر یبانو
افسو س نارې و هم غږ سې چاو ا نه و ر بد یارانو
پر سان ته خو ک را نغله د ټګا نو یارانه ده
حیرا ن یمه سلګر و چې د ا څنګه زما ه ده

* * *

ددهرله ستم نه اوس په سرګ یمه خوشحاله
نه‌دوست لرم‌نه خپل چې شي خبر زماله حاله
حساب شوم لپونیا نوکې عجیبه افسانه ده
حیران یمه سلګروچې دا څنګه زمانه ده

* * *

(فریاد) عاشق‌الله یم په‌غمونوکې بدلی
بې رحمې زمانې د لاسه ډبریم دردبدلی
د زړه د پاسه داغ سې د غمونونشانه ده
حیران یمه سلګروچې دا څنګه زمانه ده

سوی اهونه

بیامې په سخ د سپینو اوښکو سیلابونه راځي
دچاپه یاد کې مې دزړه سوي اهونه راځي

عمرمې تیرشود را تلوپه تمه تمه اشنا
ته خو را نغلې ستاد سینې تېر یادونه راځي

خیر که په‌مینه تو مټي شوم خوستاغم مې خپل‌شو
تل مې پوښتنې ته‌خوا ډه خوا ډه غمونه را ځي
لکه چې اوردې د ښایست په هستی ولګیده
چې‌مې د زړه‌ورانې دنیا ته‌تور دودونه راځي
که‌تل په‌مینه کې زخمي په‌زړه کترې کترې یم
خفه پرې نه یمه که سر په سر غمونه را ځی
چې تورې زلفې دې په‌مخ باندې سمسورې کړلې
خود مې په‌ژوندتورې تیارې او تورتمونه‌را ځي
ساقي درځار شم درقیب ز رګی دې پرک وچاوه
خماردې مات که هرې خواته ډک جامونه را ځي
زه بې دمینې په ګناه باندې مجرم نیولـی
ماګناه کارته هټکړی اوز نځیر ونه را ځـي
(فریاده) څه ټکه لوبډلې په ګلزارد مینې
چې دې بلبل غوندې له‌خولې نه‌فریادونه را ځي

د استان

نه مې ځان وسوې اورلکـه پتنګ
نه‌بورا غوندې دزړه‌ېو ينورنګ
نه مجنون غوندې دخلکو خندنی شوم
نه مې واورېد دليلاد بنګړو شرنګ

نه جمال غوندې له کوره پسې لاړم
نه مې ځان که دیار مینه کې سلنګ
نه سې ځان سړ که فرهاد غوندې په عشق کې
نه سې ولید د شیر ینې تور لونګ
نه یوسف غوندې په مصر کې بندي شوم
نه شوم یارسره یوځای په سره پالنګ
نه ..متاز غوندې جادو کې را حصار شوم
نه سې ولیده اواره نه ګرنګ
نه سې یا د دادم خان غوندې رباب که
نه سلوک غوندې په سینه کې بدرنګ
نه جلات غوندې د عمر مسافر شوم
نه محبوبه په خندا را غله ترخنګ

نه‌بهرام غوندې بندي شوم په زندان کې
نم مې ولیده د د بوا و پرې جنګ
نه مې تن له ډیره غمه سپیلنی شو
نه زخمي شومه د سترګو په خدنګ
نه‌په‌زړه لکه بادام سوری سوری شوم
نه‌رنګو رشومه په‌مینه کې یو درنګ
تش په‌خوله‌ناړې و هم چې زه عاشق یم
نه‌مې شونډې شولې و چې نه ژ پر رنګ
ننګ غیرت عاشق ته‌هیڅ وي بې له‌یاره
د عاشقو څه غرض په نام او ننګ
عاشقي اسانه نده د زړه سره
سر په لاس کې ګرځوه په وینو رنګ
ای (فریاد) عاشق‌الله عاشقی‌اورده
پروانه غوندې په اور کوه غوږ زنګ

انتظار

ستا د وصال په‌تمه ناست پـه انتظار شه‌يـم
دتو روو روځو په‌لبند و پر هار پر هار شه‌يم
چې‌خپل آشنامې شي طبيب را ځې‌علاج دپاره
خورمه‌قسم په‌ژوند کې تول عمر بيمار شه‌يم

تاچې خالونه په رخسار باندې قطار کړه ګلې
لکه لاله د زړه په سر باندې داغدار ښه يم

زلفې دې جوړې الوول کړې خو چې وراني نشي
زما دې تو ل عمر په داروي خوښ په دار ښه يم

چې دې خاطر ې خوشحالیږي نو زمې هم زوروه
چې ستاد زړه تلسل پرې کیږي ناکرار ښه يم

په بې صبرې دې درا تلو لارې خارمه اشنا
تلوار په نېک کار کې په کار دی په تلوار ښه يم

مینان واړه دي وتلي له رو اجه ځني
ګرېوان مې ځیرې ترلمنې تار په تار ښه يم

چې دې خو ښېرې سوې چیغې او داسوی (فریاد)
لکه بلبل غوندې مدام ګډه چغار ښه يم

بياسې په‌تيارو کې د يو خيال لمنه و نيوه
بيايو سيلاب وړې د يو جال لمنه و نيوه

(سعد الله جان برق)

په‌پو رتنې شعر يوه مشاعره جو ړه شوې وه
او داشعر همدې مشاعرې ته ليکل شوې و.

دمينې بدل

ما تاته د عذر او دسوال لمنه و نيوه
تا په هر قدم داستدلال لمنه و نيوه
ما خو درنه‌سينه‌اووفاغو ښته‌نو ر هېڅ نه‌و
هسې رقيبانو دجنجال لمنـه و نيوه

هر څو که نادو دې وې ظلمونه او رتنه وه
ساپه ټینګ ایمان ستادو صبال لمنه و نیوه

خلك مصیبت نه دخلاصون لپاره هڅې کړې
مادعشق دلو سواو د جال لمنه و نیوه.

ماخو دې په سینه کې د مینې بدل سر و رکړ
و و ایه آشنا ! تادکوم خیال لمنه و نیوه

شیخه ! ستا یې څه دي دو بال خبرې پر یه بس
ماد مینې لار کې دو بال لمنه و نیوه

زلفې چې خورې شوې تور ساښام وه څه سې نه لیدل
مادې دسر و ستر گو د مشال لمنه و نیوه

ستاچې زړګی نه سوزي پدې سوي (فریاد) باندې
څکه سې د قال نه او س دحال لمنه و نیوه

ډيوي

په‌نازد ښکلو خو مبدلم سلامت خپله‌يم
په‌سره انګارچې کړ بدلم سلامت خپله‌يم
ستړي ستو ماندا وبيدونه‌بې اسري پاتې شول
ښه‌وشول ! هيڅ نه‌پوهبدلم سلامت خپله‌يم

چې مې د سخ له ډيوې هر ساعت طواف کولو
لکه پتنګ چې سوز يدلم ملامت خپله يم
دمينې پټ رازمې عالم ته افسانه جوړه شوه
په ديدن هيڅ نه مې پرې لم ملامت خپله يم
تورو ننګو رود زړګي په سر چيچلی يمه
په تو روز لفولو ېدلم ملامت خپله يم
مادې او ېدې لارې څارلې ته په لنډو راغلې
په نا ليدلو لارو تللم ملامت خپله يم
عاشق الله (فرياد) تو به باسي خو نه قبلېږي
په تو بو سر په سر ختلم ملامت خپله يم

چل وول

پروت پەبل وطن کې يم له يارە بېگانه
خو به کړي تا د ودې دا ظالمه زمانه
نه‌در رسېدلی شم نه بل طرف ته تللی شم
پښو کې مې پرته ده ستا د مينې زولانه

ماله ډېر ډېر ری په نصوحا تو به ایستلې ده
لري کړه ساقي دا صراحي او پیمانه
تنګې باراني شوې غولول او چل و ولشو ډیر
هر وخت دې چې و نیم لري نوې بهانه
او س چې دې په ډینه کې د کلي خندنی کړ سه
خله حوړوې را ته د روغو افسانه
سوچ لېونې گرځم له هر څه نه بې خبر یمه
کله په ډېرا ب کله یم سر په ښخانه
بس دی چې داسوی (فریاد) پورته شو گوگل څنې
لري ډېر کړه ډېر څې نه دا چنگ و چغانه

سرې شونډې

وګړه مې بوا را نه خندا په شونډو سره
زړه دې را نه وړی دی لیلی په شونډو سره
تورې خمارې سترګې او تور کاکل زما دیار
ګډه مې په زړه کړې و او بلا په شونډو سره

څه يې ده ګناه د مجنون يې ته چې د سرو زره يې
د رنځ دې راته جوړ کړ لواشنا به شونډې سره سره
د اخله د اغلو سو ازار حسن دې زوال لري
د ين د مينې را کړه به رښتيا به شونډو سره سره
ای عاشق الله (فرياده) ته به وصال د پرنښوې
را شه چې دې د وړ کړې مه بيکا به شونډو سره سره



د خوشحال خان د مشاعرې په ۱۳۶۳ کال

نظم

کله د کوم يو ښکلي سخ په يادښت
کينم خو ډې خو ډې کښې ليکم
کله د عطرو خوشبو يي ياده شي
د يار د زلفو سلسلې ليکم
کله ،،ې ياد ته د چا سوې هيلې
راشي د غم سوي نغمې ليکم
کله ،،خيال شي د صحرا ګلو ري
د ليو ډيا نو افسانې ليکم
کله ياد راوړي د ،،ظلوم ادو نه
د دوي په ياد کې ترانې ليکم
کله يو څو پکه د دردو نوشته
چې د تېرو وند ترخې ترخې يادېږي

* * *

غم دې را ځي بې غمه نه يم اشنا
خو بس يم که زه يو څه وفا و کړم
هر کس نا کس سی له خپل خوا نه شړي
چا ته لدې غمه ژړا و کړم
خپله گناه را ته سعلو مه نه ده
چې د بخښنې تمنا و کړم
فقط پدې با ندې ځا ن گرم گڼمه
و خت د اقراردی چې رښتيا و کړم
لکه د بازپه تکبر او غرور
ډلې نه وتی څه سلاو کړم
را ځی چې يو ځای شو خپل خپله سره
له خاځکو خاځکو نه سيلاب جوړ پري

* * *

ملګرو زړه له ګیلو ډک لرمه
هیڅ نه پو هیږم کوم ډول ووایمه
زړګی زخمي خپګر کتري کتري دی
تاسو ته کوم ز خمو نه و ښایمه
دزړه کو ډله مې په غم سپېره ده
مجبور یم دا غمونه و ګالمه
دښمنا نو داشپه لس ګر بسوان
که دچا ثوري ستر ګي و ستایمه
دسوو زړو نو د ټکور په خاطر
کله سولګی شم کله و ژارمه
لږ سون مې ورو ست ګو ګل مې تش پاتې دی
حیران و لاړ یم چې په څه بهیږي

* * *

ملګرو ځکه په غاړه وسره ده
د شهید انو په جنډه وسره فضا

یو پسرلی پسته و پسې لګیږي
بل خواسرو د دی د یتیم د ژړا

هره نغمه بې د زړه سر قلم کړي
خو ک ورو روزوی ژاړي خو ک غوارې ابا

څه پسرلی دی څه به خوند وي پکې
یو خوا د ا تم دی بل خوا نا زوا دا

چا سره به کړم د غم کنډه ولی
چا ته به وکړم د زړګۍ تسلا

د کوم یو او ښکې به مین پاکې کړم
به هر ګړو ان لکه باران څخیږي

* * *

له‌بد بختيو ټول خـواره‌و اره‌ يو
څكه مدام به ژو ندانه كړ پرو
خلك دسولې خواكې ژوند لټوي
سو ډپه كاله كې شپه اوورځ جنګپرو
همت غيرت اوننګ نه‌ښه يوخبر
دپلار نيكه په كار ناسو ناز پرو
راځې داتو رداغ له‌تندي لرې كړو
تر څو به سو ډ په لرو بر ياد دپرو
لاس دو روږ يو بل ته‌ور كړوسره
ترخو به اور كې د نفاق سوزپرو
پدې عمل به‌خوشحال خان كړو خوشحال
چې پښتانه په يو ارمان ټولپرې

* * *

د لګر و حق غو ښتل ګناه نه ګڼي
که دا ګناه وي ټول جهان غو اړي

په پټ پټو ني باندې هېڅ نه کېږي
د ژ و ند خبرې سپين ږيدان غو اړي

چې د خپل حق د زړي خولې نه باسي
نه اراده او ټ ـنګ ايـمـان غو اړي

چې پښتانه سره يو سو ټې شـي ټول
دا د خوشـحال د زړه ارمان غـو اړي

خـو دې مـرام تـه رسيدو په خـاطـر
(فـريـاده) نه قـوي ټکـان غـو اړي

څکه نفـاق کـې لوی خـطـر و نيه
راتـه بـړې هـدف تـه نه رسـيـږي

پسرلی

له سپرو خاو روشو پورته سره ګلونه
سره ځلېږي هره خوا لکه لالو نه
خلك سیل کوي د ګلو پسرلی دی
پېغلو نجونو بنایسته جوړ کړ سنګا رونه

غوتی یخ په سپرلۍ دوديو را خاندي
په خوښي او خوشحالي کړي اټنو نه

دګلاب سو به شموتي باسل چغبروي
سر در و کې د طوطیانو او ازو نه

در رکانو کټه ار بنکلي نغمې دي
دایلبند په لوري یار شو کار و انو نه

دلاله تر خنګ نرګس خمار ي ستر ګي
دبنفشه ار له خمه بي و خښل ډک جامو نه

شین چمن دی وطن ټول ګل و ګلزار شو
دسپر لي ناو ي چې کا ندي سکیز و نه

سر و ه باغ کې همکه غا ړه ده و لاړه
هر طرف ته دبا خچو کوڅي سیلو نه

عاشقان له معشوقو سره همغاړه
جو ړو ي دښایسته ګلو اسیلو نه

دځو انانو دستار و نه لاله زار شو و
دنیمز الو پسغلو ډک شو و ربلسو نه

ای (فریاده) دسپر لي تحفه کړه جو ړه
یار ته ولیږه غو نچې غو نچې شعر و نه

دغلا نظر

تاچې په‌سترګو کې ستونه کول ماته
و يې‌ډه که له‌يساته
اخته‌دي په‌بلا کړم

* * *

مایارا نه کله کوله
تابه زما لاره خارله
او سدې هغه لوظونه وغورځول شاته
وې ډکه له پساته
اخته دې په بلا کړم

* * *

تاچې پلو سخ ته نیولی
دغلانظر دې یم سپزلی
سلمانانو تاسې گوري دې حیاته
وې ډکه له پساته
اخته دې په بلا کړم

* * *

نو رسې په اور ډه سبزه ګرانې
کبر ابا دې کړې و رانې
زو لی دسوال سې غوږوڼې یاره تاته
وې په کې له پسا ته
اخ ته دې پ ه بلا کړم

* * *

زړګیه و رو و رو و یلې کېږه
(فریاد) ته هر و خت مه ژړېږه
زه به دا پټ راز و نه و و ایمه چاته
وې په کې له پسا ته
اخ ته دې پ ه بلا کړم

دبلتون لمبه

دالـه خپلـې مینې پښې نـه ده
خدو کړم دزړه ساتنه ګرانه ده

خو سره توسونه سې سنلي دي
دالانـه پوهیـږي ښه نا دانه ده

ستا په خاطر هره لو به ګا لمه
د ا د غرغري خبرا سا نه ده
زه چې دربیار په لاس جواب لیږم
د ا پدې خبرو بـه ګما نه ده
او رسې لګېدلی په ځیګر با ندې
تېزه د بېلتون لمبه بېشا نه ده
ای زړګه صبرشه سودا سه کړه
یا ردې په تا کله مهربا نه ده
زه عاشق‌الله (فریاد) چې سل شوسه
پوه شه ګلې د ا د تا له خوانه ده

دخلکو گوندلاره

دا زسوبه لارده
سوبډي لاره سزل کوو
څو به خپل هدف ته
رسېدو په لورتکل کوو

* * *

لار گوره اوبده ده
چې نه ستړی نه ستومانه شې
حق د تاپه خوا دی
نه خفه نه پښیمانه شې

* * *

څو به سرسنزل ته
موبدا لاره غوره کړیده
بیر ته په شا نه څو
یوخه ځای ته رسیدلی ده

* * *

داهغه هدف دی
دمظلومو اولسو ارمان
څان وژر سوه
دادغمجنو پرګنو ارمان

* * *

داهغـــه رنـــا ده
چې گوندو ېته را ښودلې ده
سترګې مو بيـنا شـوې
تر وېښې لەمنځه تللې ده

* * *

داد گـو نـد بری دی
چې چار ېپرتې اولسونه دي
لاره لنـــــــد وی
پەښځکې لوی لوی منزلونه دي

* * *

دا يې دی مرام چـې
تل دې سولەسو کالي اوسي
جنګ نه تنفر کـــوي
همېش دې خوشحالي اوسي

* * *

زاشه وطنو اله
دا ارمان پوره کول غواړي
کا ر کوه په سينه
داوطن ابا دول غواړي

* * *

داده دگوند لاره
دوطن دلو ړيدو لاره
داده د گوند لاره
دستم دخلاصيدولاره

ملامت

رنځور پروت په بستر یمه خبر لرې کهنه
ځما په حال درحم یو نظر لرې کهنه
که یوځل مې خبرشې دزخمې زړګي له حاله
په دا داو په فریاد زما باور لرې کهنه

ترڅو به‌بند یو ان‌یم ستاد هجر په‌زند ان کې
په‌زړه کې‌لیر زمادمرګ خطر لري کـه‌نه

پدې کې ملامت‌یم‌چې‌مـې زړه‌در کړی تاله
باو ردمیـن زړو نو په‌جـوسر لـري کـه‌نه

«فریاد»عاشـق الله‌به‌وایـه‌څوپو ري کړپري
نا تـرسـې په زړو پره د محشرلري که نه

لباسی خندا

ستامحبت کې خوار وز اریمه
راشه پوښتنې ته بیمار یمه
لکه مجنون تل ځیگر خون کړمه
چې جدا شوی له خپل یار یمه

ماد لباس په خندا مه غولـوه
له ډيـره غمـه ناقر اريمـه
په نزاکت اوپه‌نخرو سره يار
زه ستي کړی پـه انګار يمـه
(وايي(فرياد) چې زړې‌تاله‌در کړ
ددې غمو نـو سز اوار يمه

PROPERTY
ACKU
2867

در نو لوستو نکومخکی له دې چې د کتاب پد لوستلو پیل و کړی لو مړی دغه لاندې غلطی تصحیح کړی .

گڼه	مخ	کرښه	ناسم	سم
۱	د	۱	تاز	تازه
۲	د	۹	تولنیر	تولنیز
۳	۲۴	۵	ځلیمان	ځلمیان
۴	۳۵	۲	وریټیږ	وریږی
۵	۳۵	۷	درسې	دریسې
۶	۵۹	۴	سړې لم	سر پدلم

عاشق‌الله(فریاد) د امان الله زوی په ۱۳۳۰ هـ ش کال دلغمان ولایت دقرغیو دولسوالی سربوط صواتي نومي کلي کې زیږ پدلی دی.

لومړنۍ زده کړه یی د چارباغ لغمان په لومړني ښوونځي کې ترشپږ ټولګي پورې ،منځنۍ زده کړې ترلسم ټولګي پورې داستقلال په لیسه کې سرته ورسولي اوپه ۱۳۵۵ هـ ش کال کې دشپږ لیسې ددولسم ټولګي څخه فارغ شو په ۱۳۶۴ هـ ش کال کې ئې د کابل پوهنتون دشپږ پوهنځي پښتو څانګه پای ته ورسوله .

له ۱۳۵۱ هـ ش کال څخه راپه دې خوا د کابل ښار ښځینه په ریاست کې د فني مامور په توګه کار کوي.

له ۱۳۶۸ هـ ش کال څخه را په دې خوا یی په شعر و یلو پیل کړی دی او یو زیات شمیر شعرونه یی د هیواد په مطبوعاتو کې خپاره شوي دي اودا یی دشعرونولمړنی چاپي مجموعه ده .